د افغان- جرمن د انترنت پاڼې ګرانو لوستونکو:

اف، ويليم اِنګدال F. William Engdahl په ۲۰۰۰م کال کې خپل کتاب "د نفتو پر مرسته په نړيوال ځواک اوښتل" په انګليسي ژبه خپور کړی او دغه کتاب بيا په ۲۰۰۳ کال کې په آلماني ژبه ژباړل شوی دئ. په نوموړي اثر کې لکه څنګه چې د هغه سر ليک په خپله ځرګندوي، د نفتو تاريخ، د ځواک او شتمنۍ د ترلاسه کولو له پاره مبارزه او ان د هغو "په مرسته په نړيوال ځواک اوښتل" په ښه توګه څېړل شوي دي. سربېره پر دې په دغه کتاب کې د نفتو رول په لومړۍ او دوهمه نړيواله جګړه کې، د هغو کړکيچونه او په تېره بيا د نفتو پر بنسټ له کال ۱۹۱۹ څخه راپديخوا د متحدو ايالتونو او بريتانيا تر منځه په ځانګړو اړيکو باندې په ښه توګه رڼا اچول شوې ده. همدارنګه په هغه کې د نفتو په اړه د تيرو او اوسمهاليزو ستراتيژيو او د اوسنيو مالي ستونزو او سياسي کړکيچونو لاملونه په بنسټيزه او هر اړخيزه توګه راسپړل شوي دي. لنډه دا چې په دغه کتاب کې د تاريخ، سياست او نفتو يوه نه هيريدونکې ارزونه شوې، چې هغه نه يوازې د څېړنو له پاره يو باوری اخځ دئ، بلکې سړی د هغه په لوستلو سره په دې پوهيږي، چې کوم عامل و او دئ، چې زموږ نړۍ يې په خوځښت راوستې وه او هغه لا هم راولي. آيا د نړۍ د دغه خوځښت اوسنې ښې بيلګې د دريمې زريزې لومړۍ او دوهمه جګړه نه ده؟ نو ښايي ډيرو خلکو ته دا پوښتنه رامنځته شوي وي، چې ولی جګړه ده؟ د چا جګړه ده؟ او د څه له پاره جګړه ده؟ راځئ چې دغو پوښتنو ته ځواب په تيره د رواني پيړۍ د دوهمې جګړې (د عراق جګړه) د همدې کتاب په ځينو پاڼو کې ولټوو. کيدای شی د دغو پاڼو ژباړه، چې له الماني ژبې څخه په ټول امانت سره شوې ده، د هغې د ځينو لاملونو په راسپړلو کې له تاسو سره مرستندوی شي.

د کتاب نوم:

# د نفتو پر مرسته په نړيوال ځواک اوښتل
# نوي نړيوال نظم ته لاره

صدام حسين او نوی نړيوال نظم

ليکوال: اف، ويليم اِنګدال
ژباړونکی: شريف بهاند

د عراق د حکومت لوړ پوړوي له زيات وخت راپديخوا د يوې داسې پلمې په لټه کې ؤ، چې له هغې څخه په کار اخيستنې سره، د نړۍ د نفتو د نل ليکو لوری، په تيره د لويديځې اروپا په خوا واړوي. دغه پلان ته، په تيره بيا د بريتانيا او متحدو ايالتونو اقتصادي او مالي حالت، په بيړنۍ توګه خپله جدي پاملرنه واړوله. د تاچر Thatcher اقتصادي انقلاب د ۱۹۸۷ کال د اکتوبر په مياشت کې د نړيوالو ونډو (اسهامو) په بازارونو کې له ماتې سره مخامخ شوی و. مخ په زياتيدونکی سود، د غير منقولو مالونو، مالي او د صنايعو بازارونه له سختو ستونزو سره مخامخ کړل. په متحدو ايالتونو کې د عامه چارو بودجه تر سخت کنترول لاندې ونيول شوه. له دغو له حده زياتو کسرونو سره، د بانکونو له منځه تلل، مخ په زياتيدونکې وزګارتيا او ترټولو

دمخه، مخ پر زیاتیدونکي رواني ناروغۍ او خپگان مل و. خلکو د خپلو خبرو اترو په ترڅ کي دغه پرمختیاوي [د تیري پیړۍ] له دریمي لسیزي سره پرتله کولي.

د عراق ۱۷ میلیونو خلکو په همدي وختونو کي له خپل گاونډی هیواد ، ایران سره یوه بي مانا جگړه پایته رسولي وه. په تهران کي د خمیني له غیر انساني رژیم سره جگړي، بله هیڅ کومه موخه نه درلوده، بي له دي چي د وسلو د نړیوالو سوداگرو راکړي ورکړي او د هغوي د گټو د ترلاسه کولو له پاره شونتیاوي برابري کړي. [د تیري پیړۍ] په اتمه لسیزه کي د امریکا متحدو ایالتونو د عراق حکومت ته د څارگرۍ (استخباراتي) د ناسمو مالوماتو پر بنسټ داسي وښودله، چي د جگړي په پیل سره به ډیر ژر بری ور په برخه شي، څو دغه هیواد له خمیني سره جگړي ته وهڅوي. جگړي د عراق با ارزښته کرنیز- صنعتي پروگرام له سختو ستونزو سره مخامخ کړ. ځکه عراق د نورو ډیرو پرمختیایي هیوادونو په پرتله پرمختللی او د پام وړ صنعتي پوتنسیال درلود ، چي د هغه پر بنسټ یي د خپلو وگړو اړتیاوي په تیره د خوراکي توکو په برخه کي له خپلو تولیداتو څخه سمبالولي.

اته کاله جگړي د عراق اقتصاد له ډیري ناوړي حالت سره مخامخ کړ او د جگړي په دوارو خواوو کي له یو میلیون څخه زیاتو انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د جگړي په ترڅ کي عراق ډیر زیات پوروړی هم شو ، چي د هغه اندازه په ۱۹۸۹ کال کي پنځه شپیته میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسیده. ستر پور ورکونکي د سعودی عربستان، کویټ، [پخوانی] شوروی اتحاد او د ختیځي اروپا د وسلو صادرونکي هیوادونه وو. دغه هیوادونه په دي هیله وو ، چي عراق به د دوي پور د خپلو نفتو او د هغو له عایداتو څخه بیرته ورکړی. سربیره پر نوموړو هیوادونو فرانسوي، بریتانوي او امریکایي بانکونو هم عراق ته پور ورکړی و. عراق ته د وسلو په ورکړه کي له [پخوانی] شوروی اتحاد څخه وروسته، د فرانسي هیواد دوهم ځای درلود.

د انگلو ـ امریکا د پلان له مخې، صدام حسین باید په داسی یوي پیښی کي راښکیل شی، چي نوموړي په هغي کي هرو مرو خپله لاره ورکه کړی. صدام باید بریتانیا او د امریکا متحدو ایالتونو ته د یوځي یرغل له پاره یوه پلمه په لاس ورکړي، چي دوي "د نړۍ د نفتو سمبالتیاوي ډاډمني کړي". د ۱۹۸۹ کال د جون په میاشت کي د امریکایي ـ عراقي اقتصاد پوهانو یوه پلاوي د صدام حسین په بلني، کله چي دئ لا "له ادولف هیتلر څخه لا زیات زورواکی نه و"، بغداد ته سفر وکړ. د پلاوي په ډله کي د کیسنجر د مشورتي شرکت، اسوشیتز Associates د غړی الان ستوگا Alan Stoga تر څنگ د بنکر تروست Bankers Trust د شرکت د څارونکي ډلي (هیت نظار) غړی، د موبیل اویل Mobil Oil ، اوکسدنتال پترولیم Occidental Petroleum او د متحدو ایالتونو د نورو نړیوالو شرکتونو غړیو هم گډون درلود. صدام حسین غوښتل، له دوي سره عراق ته د جگړي له امله د ورسیدلو زیانونو د بیا رغوني د پروگرام په اړه سلا مشوري وکړي.

د بیا رغوني د پروگرام بنسټیزه موضوع د بادوش د اوبو بند Badush-Staudamm و. د څلویښتو میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت د خړوبولو یوه ستره پروژه، چي کیدای شوای عراق یي د پنځو کلونو په ترڅ کي د خوراکي توکو له پلوه په خپلو متو درولی وای. تر هغه وخته عراق د دا ډول توکو په وارداتو پوري تړاتیا درلوده. په ۱۹۸۹ کال کي عراق دي ته اړ و ، چي د متحدو ایالتونو د مالونو د پور د ورکړي له شرکت څخه د یو میلیارد امریکایي ډالرو په ارزښت غله واخلي. سربیره پر دي عراق د متحدو ایالتونو شرکتونو ته وړاندیز کړی و ، چي د دغه هیواد د پتروشیمي په تاسیساتو ، د مصنوعي سري په تصدیو ، د فولادو په فابریکي او د نقلیه وسایلو په جوړولو کي پانگه اچونه وکړي، څو د عراق د پرمختیا په برخه کي خپله ونډه تر سره کړی. څو د

امریکایي شرکتونو استازو دا ډول معاملوته دومره زړه ښه نه کړ. ځکه له صدام څخه د دوي غوښتنه دا وه، چې باید تر ټولو دمخه د خپل دولتی پور غم وخوری او د دې موخې د تر لاسه کولو له پاره د نفتو د ملي صنایعو زیاتره برخه "خصوصی" کړي.

د انګلو ـ امریکا د ترلاسه شویو باوري خبرونو پربنسټ، چې لا تر اوسه خپرې شوې نه دي، ښایي د عراق په دښتې کې د نړۍ د نفتو تر ټولو سترې زیرمې پرتې وې. یوازې په [پخوانی] شوروی اتحاد کې د دا ډول ذیرمو اټکل کیږي.

لکه څنګه چې اټکل کیده، صدام حسین له دې څخه سر غړونه وکړه، چې د خپل هیواد د نفتو د ملی زیرمو واک (حاکمیت) د تشو وعدو له امله، چې په راتلونکو وختونو کې به پور ترلاسه کړی، له لاسه ورکړی. وروسته په ۱۹۸۹ کال کې، یوه زیاته اندازه پور (کریدت)، چې اندازه یې ۳ ، ۲ میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسیده او د جورج بوش (ستر بوش) د حکومت له خوا یې عراق ته ژمنه شوې وه او په لوي لاس (قصدی توګه) له غیرې مستقیمې لارې، د اتلانتا د جورجیا په ایالت کې د ایټالیا د ناسیونال دیل لافورو (BNL) د بانک د یوې څانګې له لارې په پټه توګه لیږدول کیده، په ناڅاپی توګه کنګل شو. د پور دغه کنګل کیدل د لندن فاینشنل تایمز Financial Times د رپوټ له مخې له شوره ډک لګول شوي تورونه وو، چې ښایي له دغه پور څخه به په پټه توګه د عراقي پوځ د وسلو د سمبالښت له پاره ګټه تر لاسه شي.

د ستوګا له ډلې سره د ناکامو خبرو اترو او د ناسیونال دیل لافورو (BNL) د بانک د پور د کنګل کیدو اغیز دا و، چې عراق د ۱۹۹۰ کال په پیل کې ځان په ناڅاپي توګه د لویدیځو پور ورکونکو بانکونو له کریدت څخه بې برخې (محروم) وګاڼه. په دې ډول ګواښمن حالت کې د کویټ امیر صحنې ته راوړاندې شو. شیخ جابر الصباح او د هغه کورنۍ د شلمې پیړۍ له پیل څخه د بریتانیا د پاچاهي کورنۍ لاسپوڅی او باوری کس ګڼل کیږي. امیر د واشنګټن او لندن له اوامرو سره سم د خپلو نفتو له بې پایه عایداتو څخه د عراق په واک کې پیسي ورکولي. د دغو پیسو په مرسته باید له دې څخه مخنیوي شوی وای، چې عراق له ایران سره په جګړه کې، چې له اتو کلونو څخه یې زیات دوام کړی دئ، ځان سترې او ستومانه احساس نه کړی. د انګلو ـ امریکا په اند دغه جګړه باید د دواړو هیوادونو تر منځه د انډول په ساتلو سره، هرڅومره چې شوني وی، زیات دوام ومومي.

د جګړې دغه حالت یانی "د هیجان ستراتیژي" نه یوازې له اقتصادي پلوه د وسلو پلورونکو له پاره، چې د جګړې په دواړو خواوو باندې یې وسلې خرڅولې، د ارزښت وړ و، بلکې له سیاسی پلوه د اسراییلو له پاره هم ډیر د ارزښت وړ بلل کیده. د لویدیځ د مخکښ ځواک دغه نا خپرې شوې موخې وروسته د خلکو تر منځه زیاته رسوایي رامنځته کړه.

د ۱۹۹۰ کال په پیل کې باید کویټ خپلو کړو وړو ته بدلون ورکړی وای. ځکه د دغه هیواد امیر دنده تر لاسه کړه، چې د اوپک د سازمان له ترلاسه شوو هوکړو سره سره په زیاته پیمانه ارزانه نفت، نړیوال بازار ته وړاندې کړي. په ۱۹۸۶ کال کې د نفتو د بیې له راټیټدو څخه وروسته د اوپک د سازمان غړي هیوادونه یو ځل بیا سره جرګه شول، چې د شمالي سمندرګي او الاسکا د نفتو د لوړ ښو زیرمو، [د تولید له پلوه ګران] په ګټه د خپلو تولیداتو ونډه راټیټه کړي. کویټ یو ځل بیا په ناڅاپی توګه خپلې ژمنې تر پښو لاندې کړې او د خپلو نفتو د زیاتو تولیداتو له امله یې د نفتو د هر بیرل (۱۵۹ لیتره) بیه له نولسو امریکایي ډالرو څخه دیارلسو ډالرو ته راټیټه کړه. د عراق او د اوپک د سازمان د بیلا بیلو غړو هیوادونو پر له پسی دیپلوماتیکو هلو ځلو و نه شو کړی، چې د کویټ د امیر شیخ الصباح او د هغه د نفتو د وزیر علی خلیفه الصلاح دغو ویجاړونکو کړو

وړو ته بدلون ورکړي او دوي دواړو خپل غوړنه کانه واچول. د نفتو سوداګرو د همدې کال په جولای کې په وار وار سره اعلام وکړ، چې ښايي د نفتو بيه نوره هم راولوېږي او کيدای شی د هغو د هر بيرل بيه له لسو ډالرو څخه هم راټيټه شي. د نفتو دغې ټيټې بيې د عراق له پاره زمينه دومره تنګه کړه، چې نه يې شو کولی د خپلو پورونو خدماتي چارې (د پور د ټاکل شوې برخې بيرته ورکړه او د هغه ټکټانه) ترسره او خوراکي توکي راوارد کړي.

د همدې کال په فبرورۍ کې د عربو د همکارۍ شورا Arabische Kooperationsrat ، چې غړي يې د عراق، اردن، مصر او د [پخواني] شمالي يمن ولسمشران ؤ، د اردن په پلازمېنې عمان کې سره جرګه شوه. صدام حسين هم په دې غونډه کې وينا وکړه. نوموړي په خپلې دغې وينا کې په ختيځې اروپا کې د کمونيستی نظام د له منځه تلو د ستراتيژيکو پايلو په اړه خبرداری ورکړ. ځکه د امريکا متحده ايالتونه د يوازيني پاتې شوي پوځي زبرځواک په توګه په ځانګړې توګه د عربي نړۍ له پاره د ګواښ په مانا دي.

صدام حسين په دې باب هغه ګواښمن واقعيت ته نغوته (اشاره) وکړه، چې امريکايي سمندري ځواک د عراق او ايران د جګړې له پايته رسيدو څخه يو کال وروسته هم له ځانه داسی ښېي ښاني نه دي ښودلي، چې د فارس له خليج څخه به پر شا کيږي. برعکس داسی بريښي، چې "دغه هيواد په وار وار سره روښانه کړې، چې دوي به دلته پاتي کيږي". صدام دې ته هم نغوته وکړه، چې شوروی اتحاد په زياتيدونکي توګه د خپلو کورنيو چارو تر اغيز لاندې راځي. "که شوروی اتحاد په پوره اندازه له خپلو کورنيو ستونزو سره لاس او ګريوان دئ او د عراق- ايران جګړه پايته رسيدلي ده، نو د مخامخ ګواښ ښېي نه تر سترګو کيږي، خو متحدو ايالتونو، په تيره په اوس وخت کې په وار وار سره ويلي، چې غواړي په سيمه کې پاتې شي. نو ځکه بايد دغه حالت ته په ځانګړې توګه پاملرنه واړول شي".

صدام حسين خپله دغه لنډه وينا په دې غوښتنې سره پايته ورسوله، چې د نفتو له پلوه بډايه عربي هيوادونه بايد په ګډه سره عمل تر سره کړي، "او تر خپل واک لاندې د انرژۍ له زيرمو څخه، چې بيلګه يې د نړۍ په نورو برخو کې نه تر سترګو کيږي، په خپله ګټه واخلي. زما په اند، موږ بايد خپلو اړيکو ته له اروپا، جاپان او شوروی اتحاد سره په هغه ډول پراختيا ورکړو، چې دغه اړيکې څومره ژر چې شوني وي، موږ ته ښېګڼې را په برخه کړي".

هغه څه چې د امريکا د متحدو ايالتونو او بريتانيا د واکمنو کړيو د هڅولو لامل شو، چې په منځنی ختيځ کې د خپلو پوځي عملياتو پلان پر مخ بوځي، هغه د صدام حسين همدغه وينا وه. د ۱۹۹۰ کال په جولای کې د عراق او کويټ تر منځه شخړې پراختيا ومونده. نو ځکه د همدې مياشتې په اوه يشتمه نيټه د متحدو ايالتونو سفيرې، ميرمن اپريل ګلاسپي April Glaspie د عراق حکومت ته د دغې شخړې د ارزونې په اړه د خبرو اترو وړانديز وکړ. د عراق حکومت د دغو خبرو اترو رسمی يادښت د جګړې له پيل څخه وروسته خپور کړ. ولسمشر بوش د دغه يادښت خپرونه يوه پلمه وبلله او صدام حسين ته يې په رسمي توګه سپکې سپورې وکړې او نوموړي يې دروغجن وباله. يو کال وروسته د متحدو ايالتونو کانګرس دې ته اړ شو، چې د ولسمشر د دغه عمل ريښتنوالی تاييد کړی. په داسی حال کې چې اوس له هغه سره هيڅا، ان نيوه که کونکو خپرنيو هم مېنه نه درلوده.

د متحدو ايالتونو سفيرې په دغه لاسوند (سند) کې صدام حسين ته روښانه کړې وه، چې واشنګټن به د عراق او کويټ د شخړې او د هغوي د پولې په سر لانجه کې له هيڅ يوه لوری څخه ملاتړ و نه کړی. ځکه دغه مسأله د متحدو ايالتونو ګټو ته زيان نه رسوي.

د امريکا د متحدو ايالتونو حکومت لا له پخوا څخه د عراق ـ کويټ پولو ته څيرمه د عراقي پوځونو د ځای په ځای کيدو تصويرونه په لاس کې لرل او د ګلاسپي يادونه د زرغون څراغ (د يرغل د اجازې) په مانا وه. هماغه و ، چې د اګست په دوهمه عراقي ځواکونو پر کويټ باندې يرغل وکړ. [د کويټ] واکمنه کورنۍ لا له پخوا خبرتيا تر لاسه کړې وه او له خپلو ټولو رولز ـ رايس Rolls - Royce-Fuhrpark موټرونو ، پسولونو (زيوراتو ) او نورو ارزښتناکو شيانو سره له هيواده تښتيدلې وه. د دغه هيواد د پخوانی حکومت يو لوړ پوړی چارواکی، چې په لندن کې په جلا وطنی کې ژوند کوي، په تروه تندي دې مسألې ته داسی نغوته وکړه: " سی، آی، ای CIA پاچاهي کورنۍ ته په خپل وخت سره خبرتيا ورکړې وه، چې له هيواده ووځي، خو د الصباح [کورنۍ] په قصدی توګه له ياده ايستلي و ، چې د کويټ پوځ له دغه يرغل څخه خبر کړي ".

له يرغل څخه يوازې څو ساعته وروسته د انګلستان بانک او د متحدو ايالتونو حکومت د کويټ ټولې د اعتبار وړ پيسې Guthaben او حسابونه، چې د نړۍ په ستر وجهې صندوق Investmentfond کې وې او په لندن کې د کويټ د پانګې اچونې د ادارې له خوا يې چارې پرمخ بيول کيدې، ضبط کړې. دا چې د دغو د اعتبار وړ پيسو Guthaben او حسابونو اندازه په ريښتنې توګه څومره ده، له دولتي رازونو څخه ګڼل کيږي. خو د باوری سرچينو له اټکل سره سم، د هغو ارزښت له سلو تر يو سلو پنځوسو ميلياردو امريکايي ډالرو پوری دئ.

له يرغل څخه وروسته د شپږو مياشتو په ترځ کې يوه ستره طنز ډوله ننداره رامنځته شوه. ولسمشر بوش سمدلاسه اعلام وکړ، چې د عراق د احتمالی ګواښمن يرغل په وړاندې به د امريکا متحده ايالتونه خپل پوځونه د سعودی عربستان د دفاع له پاره د خليج سيمې ته ورواستوي. د تاچر حکومت بې له ځنډ په نامحدوده توګه [د متحدو ايالتونو] له دغه هوډ څخه ملاتړ وکړ. دا چې داسی يو ګواښمن يرغل رامنځته کيدای شو او که نه، د هغه نښې نښانې هيڅ چيرته نه تر سترګو کيدې. وروسته بيا روښانه شوه، چې متحدو ايالتونو د دا ډول يرغل نښې نښانې په خپله رامنځته کړې وې، چې بايد د هغو پر بنسټ د سعودی عربستان واکمنه کورنۍ د عراق پر دا ډول يرغل باندې باوري کړې. کله چې د اګست په پيل کې دغه تصميم ونيول شو ، د متحدو ايالتونو ولسمشر بوش او د بريتانيا لومړې وزيره تاچر، دواړه د کولورادو د اسپين په انسيتيوت کې وو.

د متحدو ايالتونو ولسمشر بوش د سپتمبر په يوولسمه خپل "نوی نړيوال نظم" اعلام کړ: " له دغو ناآرامه وختونو څخه کيدای شي، يو نوی نړيوال نظم رامنځته شي، چې په هغه کې به ملګري ملتونه هغه رول ولوبوي، چې د دغه سازمان د بنسټ ايښودونکو لخوا طرح شوی و. موږ د فوق العاده او ځانګړو شيبو شاهدان يو. د خليج د سيمې کړکيچ، چې کيدای شی هغه له ګواښه ډک هم وي، موږ ته داسی موقع په لاس راکړې، چې د ګډې همکارۍ يو تاريخی پړاو مخ په وړاندې يوسو. د نوي نړيوال نظم په رامنځته کيدو باندې سختې شيبې تيريږي. داسی يوه نړۍ به رامنځته شي او هغه به له دغې نړۍ څخه، چې موږ يې اوس پيژنو ، توپير ولری ".

د ۱۹۹۰ کال د اکتوبر په پيل کې ميخايل ګورباچوف، خپل د منځنې ختيځ ځانګړی استازی ايفګينی پريماکوف ته دنده ورکړه، چې که وکولی شی، د عراق له جګړې څخه مخنيوي وکړی. پريماکوف په بغداد کې له صدام حسين او د دغه هيواد د بهرنيو چارو له وزير طارق عزيز سره له خبرو اترو وروسته د اکتوبر په نولسمه په سپينې ماڼۍ کې د متحدو ايالتونو له ولسمشر جورج بوش او د دغه هيواد د بهرنيو چارو له وزير جيمز بيکر سره وکتل، څو دوي ته د بغداد له مشرانو سره د خپلو خبرو اترو رپوټ ورکړي او [د دغې ستونزې] د هواري له پاره يو سوله ييز وړانديز وکړي. ولسمشر بوش د نوموړي خبرو ته په ځانګړې پاملرنې سره غوږ نيولی و ، خو څو ساعته وروسته پريماکوف ته وويل شول، چې جورج بوش د دغې ستونزې په اړه له نورو خبرو اترو سره مينه

نه لري. پريماکوف خپل هيواد ته د ستنيدو په لارکې د گورباچوف له هيلي سره سم په لندن کې تم شو، چې [د بريتانيا] له لومړي وزيرې تاچر سره د خپل منځگړيتوب د هلو ځلو په اړه خبرې اترې وکړي.

له تاچر سره له خبرو اترو وروسته نومورې د تايم Tim له مجلې سره يو مرکه وکړه، چې دغه مرکه د عراق له جگړې وروسته د ۱۹۹۱ کال د مارچ په څلورمه خپره شوه. پريماکوف په خپلې دغې مرکې کې ويلي و: " لومړي وزيرې موږ ته په خپلې شخصی مانۍ چيکرز Chequers کې هرکلی وواېه. نومورې زما د هلو ځلو رپوټ ته، بې له دې چې هغه پرې کړي، په خورا پاملرنې سره غوږ نيولی و. خو وروسته هغې هم څه نا څه يو ساعت هيڅاته اجازه ور نه کړه، چې د هغې خبرې پرې کړي. تاچر د خبرو اترو په ترڅ کې په متمرکزې بڼې سره، يوه حالت ته وده ورکړه او تل يې له هغه څخه استازيتوب هم کاوه. "دې غوښتل له کويټ څخه د عراقي پوځونو په راوتلو سره، ترلاس لاندې نيول شوی پلان محدود و نه وينې، بلکې غوښتنه يې دا وه، چې د عراق په وړاندې يو له منځه وړونکی بريد تر سره کړی او د هغه په ترڅ کې د صدام حسين ملا تير ور مات، د عراق ټول پوځ او بنايي هم د دغه هيواد صنعتي پوتنسيال له منځه يوسې ".

د څو مياشتو په لړ کې خبرې اترې پايته ورسيدلې، چې د هغو په ترڅ کې د ملگرو ملتونو د امنيت د شورا ځيني مهم غړي تر فشار لاندې ونيول او ځيني نور په تشو ژمنو باندې وغولول شول. همدا ډول چلند له ځينو مهمو عربي هيوادونو لکه مصر، ترکيې او داسی نورو سره هم تر سره شو. [د دغو خبرو اترو] پايله دا وه، چې پر عراق باندې هر اړخيز بنديزونه ولگول شول او هاند و هڅه ترلاس لاندې ونيول شوه، چې کويټ له پوځي لارې (په زوره ) آزاد کړي. جورج بوش د ۱۹۹۱ کال د جنوری په نهه ويشتمه کانگرس ته په خپله وينا کې، چې د امريکا ملت ته مخامخ وه، وويل: " نړۍ کولی شي اوس د خليج د جگړې په لاملونو باندې پوه شی، چې دغه جگړه د هغه نوی نړيوال نظم، چې له مخکی يې ژمنه شوې وه، د رامنځته کولو له پاره تر سره کيږي ... ". نړۍ [د عراق د جگړې ټلواله] جگړه پر مخ بيايي، سره له دې چې د هغې په اړه زړه نا زړه احساسات شته دي.

په دې ترڅ يانې د ۱۹۹۱ کال د جنوری په مياشت کې د پوځي عملياتو له پاره چمتوالی، چې د ويتنام له جگړې وروسته يې ساری نه و ليدل شوی، خپل لوړ پړاو ته ورسيد. پر عراق او کويټ باندې د يرغل له پاره د سعودی عربستان هيواد د جگړې په ډگر بدل او له هغه وروسته د عراق په ښارونو باندې د بمونو ورښت پيل شو. په دغه کړکيچن حالت کې د متحدو ايالتونو د مشرتابه د پوړ (قشر) زياترو غړو د ولسمشر بوش د پوځي عمل د منتظره پايلو په اړه شک او ترديد درلود. د ولسمشر ريگن د هغه وخت د سمندري ځواکونو لوی قومندان جيمز، اچ. ويب James H. Webb په خپلې يوې تلويزونی مرکې کې، چې د ۱۹۹۰ کال د نوامبر په ۱۲ نيټه يې کړې وه، ويلې و: "د فارس په خليج کې زموږ د شتوالي موخه دا ده، چې د بوش د حکومت د نوي نړيوال نظم له پاره شونتياوې برابرې کړو.خو زه له هغه سره هيڅ مينه نه لرم ".

نومورې د جنوری په يوديرشمه په وال ستريت ژورنال کې په خپلې يوې تبصرې سره روښانه کړې: " د بوش حکومت د بيلابيلو خواوو په ملاتړ ... زموږ ملت په جگړه کې راښکيل کړ. سړی بايد د ورځپاڼې د خپرونکی، ويليم راندولف هرست William Randolph Hearst وختونه را په ياد کړی، چې نومورې څنگه خلک هغه وخت لکه د اوسني کړکيچ په څير د خپلو مهمو مقالو د خپريدو له لارې د امريکا ـ اسپانيې د جگړې تر اغيز لاندې راوستل. سړی بايد له دې څخه يو څه نور هم شا ته، يانی له مکسيکو سره جگړې ته نظر واچوي. په دې وخت کې له داسی يوه ولسمشر سره مخامخ کيږو، چې په دې هڅه کې و، څو ولس په يو پوځي کړکيچ کې اخته کړي، که څه هم ورباندې يرغل نه دئ شوی ".

همدارنگه په سعودی عربستان کې د متحدو ایالتونو پخواني سفیر او د منځني ختیځ پیژندل شوی کارپوه جیمز اکینز James Akins د ولسمشر د جګړې له پلانونو سره په رسمی توګه خپل مخالفت وښود. نوموړي د ۱۹۹۰ کال د سپتمبر په دولسمه د لاس انجلس تایمز په ورځپاڼې کې تر خپل نامه لاندې یوه مقاله خپره کړه. د دې مقالې له خپریدو څخه یوازې څو ورځې مخکې ولسمشر بوش، سعودی عربستان ته د پوځیانو د استولو اعلام کړی و. اکینز په خپله مقاله لیکی، چې سپینه ماڼۍ په خپل دغه هوډ سره بیخې بله موخه "تعقیبوي نوموړی د خپلې مقالې په یوې بلې برخه کې لیکی، چې د دفاع د وزیر مرستیال [دیک] چینی په لوی لاس (قصدی توګه) د [عراق] د ګواښمن یرغل په اړه د سعودی عربستان پاچا ملک فهد ته ناسم مالومات ورکړل، څو په دې توګه په دغه هیواد کې د امریکایي پوځیانو د ځای په ځای کولو له پاره هوکړه ترلاسه کړی. سعودیانو تر وروستیو لسیزو پوری له دې کار څخه په کلکه ډډه کړې وه. اکینز په خپله مقاله کې زیاتوي، چې ان په ۱۹۷۵ کال کې د بهرنیو چارو پخواني وزیر هنری کیسنجر له هغو پلانونو څخه ملاتړ کاوه، چې موخه یې د منځني ختیځ د نفتي زیرمو د لاندې کولو (اشغال) له پاره د یوې پلمې رامنځته کول وو. اکینز لیکی، چې ما هغه وخت دا ډول پلانونه په کلکه رد کړي و، خو "د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر هنری کیسنجر بل لید درلود، نو ځکه په دغه وزارت کې زما کاري پرمختګ هم دوام و نه موند. ... د بوش په حکومت کې هم ځیني خلک په دې باور دي، چې د ۱۹۷۵ کال په پرتله اوس د دې کار له پاره لاره په ښه توګه هواره شوې ده".

دا بې ارزښته نه ده، چې را په یاد کړو، چې د کیسنجر د، اسوسیتز Associates د شرکت مشر لاورنس ایګلیبورګر Lawrence Eagleburger په دې وخت کې د جیمز بیکر تر مشرۍ لاندې د بهرنیو چارو د وزارت د مرستیال په توګه دنده تر سره کوله. د کیسنجر د شرکت یو بل کارکونکی برنت سکوفرفت Brent Scowcroft په سپینه ماڼۍ کې د ولسمشر د امنیتي چارو سلاکار و. په هغو ورځو کې، چې متحدو ایالتونو د فارس د خلیج په اړه خپل بهرنی سیاست ټاکه، د دغه هیواد په لارښودې اداري کې د کیسنجر د نظر ملاتړو بنسټیز رول درلود. سربیره پر دې په خپله کیسنجر هم په خپلو هغو مقالو کې، چې د متحدو ایالتونو د بهرنی سیاست په ټاکنه کې یې رول لوباوه، د عراق په وړاندې له جګړې څخه ملاتړ کاوه. د خلیج د جګړې په وړاندې مقاومت د امریکا د متحدو ایالتونو د لوړ پوړو چارواکو له خوا په نیوه که کونکو رسنیو کې د هغوی د زیاتو انګروزو (تبلیغاتو) تر اغیز لاندې راغلی و.

ختم